**لیکونکي:** فینین کوننگهم (finian Cunningham)
**سرچینه اودخپریدو نیته** : انفارمیشن کلیرنګ هوز«». 
**ژباړونکي** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» . -

---

# سعودی د ترور دلاری دپوښولوپه نیت
# داړدوړو د رامینځته کید و په لټه کی

## Saudi seek chaos to cover terror track

**انفارمیشن کلیرنګ هوز:** سپوتنیک – په سوریه کی دروسیي پریکړنی نظامی لاس وهنه نه یوائځی داچی دعربی هیوادونو ثبا ت او تیکا وته ستر بریا لیتوبونه ور په برخه کړل اوهغوی یی دتروریزم له ولکی اومنګلوڅخه وژغورل بلکه دروسی په ما نور سره دهغه پټ جنا یی جنګ د سوند د مواد و په اړین چی دغه جګړه مخ ته بیا یی د خارجی ککړو حلقا تو او هیوادونو څیری چی د سوری د رژیم د بد لون په لټه کی زیا ر با سی هم را وځیړل .

همدارنګه د روسیي د ما نور سره دواشنګټن ، بریتا نیا اود فرا نسی د ملا تړ اندازه کوم چی نوموړی هیواد ونه دغیر قا نونی شورش او یا د شورشیا نو سره چی د منتخب جمهور ریس (بشر ال اسد ) په مخالفت سره جنګیږی هم را معلومه کړ .




سعودی د تروریستا نو صا درول

د یا دونی بل مهم مطلب داچی دروسیي په نظامی مداخلی سره دغرب اوپه منطقه کی دغرب دلاس پوڅی رژیمونو د جنایی توطییوو ښکاره لړیی اولاس وهنه له حده زیا ت وڅیړل شو - اوپه تیره بیا د طیب ارضوان ښکاره لاس وهنه دروسی دهوایی مداخلی له امله روښنا نه شو چی« ارضوان» د سوری تروریستی شبکی ته په قاچا قی بڼی سره سلاح ګا نی – راکټونه او نفت لیږی .

په سیمه کی هغه بل هیواد چی په سوریه کی دروسیی دهوای برید پواسطه سره دهغه ځیره بربند شوهغه سعودی عرب دی اوداسی وځیرل شو چی ولی هغه پخپل سر د تیلو بډا شاهی واکمن هیواد په منطقه کی دفرقه ای اوقومی بیلتون غوښتنی داور دلمن دپراخیدو په لټه کی تیراونی دشیعه ګانو یو پیژندل شوی پیشوا«**شیخ نمر ال نمر**» داعدام په سزا محکوم کړ او هغه یی د نورو محکومو کسا نو سره اعدام کړ.

بی ویلو دی پا تی نشی چی «شیخ نمر» په منطقه کی د شیعه مسلما نا نو په مینځ کی دهغه دزړه ورتیا اوپه مسا لمت آمیز بڼی سره دهغه اعتراض دال سعود د حاکما نو په وړاندی په درلودو سره داحترام یو وړ شخصیت وه- چی شیخ دهمدی دریځ په لرلو سره دال سعود دحاکما نو دځیرنی دمجلس کوم چی دوهابیزم دافراط ګرایی دنسخی دپراخیدو په لټه کی دی د پریکړی په بنیاد«شیخ نمر» ته داعدام سزا واورول شواو هغه اعدام شو.

دوها بی پیروانو په ذهنیت کی شیعه ګان – مسیحان او نور مذهبی ډلی (کافر) یا بی دین ګڼل کیږی نودهمدی ذهنیت په لرلوسره هغوی دنورو مذهبی پیروانو مړنه روا ګڼی – نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره تصادفی نه دی چي په سوریه کی اکثر جهادی جګړه مار ډلی تیلی چي «داسد» درانسکوریدو په لټه کی دی وهابی ونه اوسیږی اوداځکه چی اوس ټولو ته لکه د لمر په شا ن ښکاره دی چی په سوریه کی دداعش (اسلامی دولت ) اودجبهه النصر ډ لی د سعودی وهابی حا کما نو ما لی اومادی مرستی تر لاسه کوی.

د«شیخ نمر » جبران نه منونکی اونه پوره کیدونکی وژنه وروسته د ځو میاشتو دهغه دجزا دبیا له سره کتنی اود بخښنی دغوښتنو ځخه ترسره شو کوم چی نه یواځی دایران ددولت له خوا اویا دمینځنی ختیځ دشیعه قوتونو له خوادغه وړاندیز سعودی مقا ما تو ته شوی وه بلکه د بین المللی حقونو ګنو نهادونو هم د سعودی عرب د قضا د حکم په اړه ځنی شکونه درلودل اوداځکه چی بین المللی نهادونه دشیخ «نمر» د بی ګناهی په اړه کافی او پوره شواهد لرل اما له بده مرغه سعودی حا کما نو په ډیر بی پروایی او په عمدی بڼی سره د سیمی اود منطقی داړدوړکولواوبیا په تیره دایران دشیعه ګانو دتحریک اودراپارول په منظور شیخ «نمر» یی اعدام کړ .

په ایران کی دسعودی عرب سفارت اوسیاسی نمایند ګی ته اورپوری کول اودهغه سوځول ددواړو هیوادونو ترمینځ دلفظی جنګ او ددیپلوماتیکو اړیکود پریکړی په مفهوم دی اوددی وضعی نه داسی پایلی تر لاسه کیږی چی دغه انفجاری غبرګون مخکی له مخکی په قصدی بڼی سره په کار نیول شوی وه کوم چی اوس دسعودی عربستان پوری تړلی متحد ین لکه بحرین – سودان اوعربی امارات د نورو نه مخکی خپل دیپلوما تیک اړیکی له ایران سره وشلول - اما هغه ځه چی د تشویش خبره تر سترګو کیږی هغه داچی د ځنی سیا سی مفسرینو په قول سره لیری نه دی چی په دی سیمه کی خونړی جګړه پیل نشي .

دپام لرنی په نظر کی نیولو سره هغه لاس او پښی پریکونه ( ضرب وشتم ) چی سعودی عربستان د«شیخ نمر» په اعدام سره په لاره کی واچول داسی په نظر راځی چی واشنګټن اود غربی نړی نور قوتونه کوم چی د سعودی عرب له متحد ینو اوسرپرستا نوڅخه شمیرل کیږی په تشویش کی اچولی اوپه دی اړین ددی اونی په سر کی نیویارک ټایمس دخپل یو راپور په ترڅ کی داسی په ډاګه کړ چی (اوباما) اودهغه اداره دسعودی عرب د دغه حیرانونکی کړنی له امله په تعجب کی ولو ید لی اود سعودی عرب ددغه بی توجهی له امله په قهر شوی چی ولی سعودی حاکمان په منطقه کی اور بل کړ اواوس بیا اور ته لمن وهی .

پس دلته یوسوال رامینځته کیږی اوهغه داچی سعودی عرب ولی داسی پریکړه وکړ چی سیمه په ډوبیدونکی ناکراری ور ډوب کړی ؟ ددی سوال ځواب داددی چی په سوریه کی د روسیې نظامی مداخلی سره د خارجی توطیه ګرو ډلو ټپلو هیلی کوم چی غوښتل په سوریه کی رژیم واړوی دخا وری سره خا وری کړ او په عین زمان کی دروسی دهوایي بریدونو په لړ کی یوشمیر غیر قانونی مسلح ګروپونه لکه دداعیش ډلی (اسلامی دولت ) جبهه النصر اودهغو پوری تړلی نورترورېستی څانګی دغاښ ماتونکی ما تی سره مخا مخ شو کوم چی دغه تروریستان دځنو هیوادونو اوبیا په ځانګړی بڼی سره د ریاض اودانقری له خوا ملاتړ کید ل .

رندی مارتین ( Randy Martin) دامریکی دمتحده ایالاتو سیاسیی کارپوه خپل نظر داسی وړاندی کوی اوس داسی په نظرراځی چی روسیه څه باید وکړی چی په سوریه کی دشخړی لمن را ټول کړی - په سوری کی دروسیې نظامی عملیاتونه د تروریستی شبکی په وړاندی په دراماتیکی بڼی سره دسعودی وهابی حاکمانو څیری هسی چی وه رابربنډ اولوڅ کړ .

نوموړی امریکایی سیاسی کارپوه دخپلو خبرو په دوام کی زیاتوی : اوهغه داچی اوس سعودی عرب دی کوم چی په سوریه کی د خپل جنا یی توطیی اود پیژندل شوی تروریستی ډلی ټپلی سره دخپل نه انکار منونکی نژدی آړیکی باندی برغولی ایږدی او هڅه کوی چی اویا ددی پریکړی په لټه کی دی چی په سیمه کی دایران شیعه دولت دجنګ په لور تحریک کړی او یا حتی د امکان تر سرحده پوری غواړی چی روسیه هم په جګړه کی را ښکیل کړی اوپه دی ډول دنړیوالو پام د خپل جنا یا تو اود توطیو څخه کوم چی په سوریه کی مرتکب شوی بل خواته واړوی .

« مارتین » د روسی د دسمبر د(۲۵) نیټی دهوایی برید په اړه داسی څرګندونه وکړ : دروسیې هوای قوتونه د جهادی شبهه نظا میا نو یا (جهش ال اسلام ) د رهبری ژړی په سوریه کی له بیخه وویستل . او هغه داچی د سوری د پلازمینی د مشق ته نژدی دغربی ګواتا( Ghouta ) په سیمه کی دهمدی جهش ال اسلام مشرا ورهبر « زهران الویش »

(Zahran Alloush) سره دهغه نها د قوماندانان په هوای برید کی له پښو وغورځول او مړ یی کړل.

څلوروځی وروسته یعنی ددسمبر دمیاشتی په (۲۹) نیټه کی دسعودی عرب دبا ند نی چارو وزیر عدل ال جوبیر(Adel Al Jubier) په ښکاره اوعمومی بڼی سره دروسیی دغه هوایی برید چی دهغه په پای کی دجهش ال اسلام رهبری اودهغه قوماندانان ووژل شو ګرم وبلل اوپه ریاض کی دخبریالانو په نا سته کی په ډار او تشویش سره یاده کړه چی روسیی په دی خپل عمل سره د سوریی د مذاکراتو په روند با ندی چي په جینیواکی ددی میاشتی په اخرکی ممکن پیل شی بده اغیزه وا چول اوهغه دا چی ممکن مذاکرات دیو لړخنډونوسره مخامخ شی « ال جوبیر» دخپل خبرو په دوام کی وویل زه نه پوهیږم چی د روسا نو په ذهن کی څه ګرځی اودهغوی مقصد څه شی دی؟

فلهذا دسعودی عرب ددولت اودهغه دباندنیوچارودوزیر دغه رسمی غبرګون دجهش ال اسلام درهبری اودهغه نهاد دقوماندانانودوژلو په اړین په څرګند بڼی سره دهغه دولت اړیکی دتروریستی ګروپونوسره په سوریه کی نه راڅرګند وی؟ لکه هغسی چی ټولو ته معلوم دی چی دجهش ال اسلام شبهه نظامی ډلی په ګډه سره خپل جنګیالی او سلاحګانی دالقاعده اودجبهه النصرله ډلو ټپلوسره شریکه کوله بی ویلودی پاتی نشی چی د امریکی دمسولو مقاما تو اوداروپا داتحا دی له خوا دغه ډله یعنی د جهش ال اسلام ډلی په رسمی توګه سره تروریستی ډلی نومول شوی دی مګر بیا هم سعودی حا کما ن دهغو سره نه شلیدونکی اړیکی لری .

**روسیه په سوریه کی دخپل هوايي برید سره دوه شی تر سره کړ:**

**لمړی** : په مخا مخ توګه په جګړه کی د تروریستا نو سره ځان په جګړه کی ښکیل کړ یعنی دهغو تروریستی ډلو ټپلو دځړی دوچولو اودشنډولو په هدف کوم چی هغوی په پټه سره دغربی هیوادونو اودهغو د منطقوی متحد ینو ترملاتړ لاندی وه اولاتراوسه دی کوم چی دهغوی ګډه هلی ځلی په سوریه کی د مارچ کال (۲۰۱۱) څخه را په دی خوا درژیم بدلول اونسکورول وه اودهغوی یعنی دغربی قوتونو له ډیر پخوا څخه هغه یواځنی سیا سی تګ لاره په سوریه کی چی خپل زړه ورته خوښ کړی وه درژیم بد لون وه چی که وشی کړلی دغه خپل هد ف دجینوا د نا ستی له لاری څخه تر لاسه کړی .

سعودی عرب په منطقه کی د سوریی درژیم د بد لون دپروژی د ملاتړکلک دریځي دامریکی د با ند نیو دچا رود وزیر جان کیری هلی ځلی چی دروسیی دهوايي برید دپیل څخه وروسته له تیر دری میاشتی راپه دی خوا په سوریه کی دشخړی دپای ته رسید و د پاره د یو سیاسی بدیل دلاری د پلی کولو هڅی یی راشروع کړی دی خپل مخا لفت څرګندوی اودسعودی رسمی مقامات د«جان کیری» هڅی په ډاګه سره یوه ناکامه پروژه ګڼی اودهغه سره بیا خیل کلک ضد یت وښودل کوم چی «جان کیری » دایران سره

مخکې د یکشنبې دورځې ډیپلوما تیک پول اواریکې بیا له سره پرانیستل (داهغه ګذارش دی کوم چې نیویارک تایم بځبل خپرونه کې یې په نشر ورسول ).

**دوهم**:هغه څه چې روسیه په سوریه کې د خپل نظا مې مداخلې له امله ترسره کړ هغه دامریکې د متحده ایالاتو یو پیژند ل شوی سیا سیی کارپوه ښاغلی (رندی مارتین) راپه ګوته کوی : روسیه بخپل دغه عمل سره وښودل چې سعودی لوړ پوړی مقا ما ت په سوریه کې دټولو تروریستی ګروپونو سره ښکاره اړیکی لری اوپه دی ډول دسعودی د حاکما نو ناولی څیری ټول نړیوالو ته بربنډ کړ .

په دغه هفته کې د سعودی عرب سفیر ښاغلی عبد الله موالیمی ( Abdullah Mouallimi) په ملګرو ملتونوکی داسی په ډاګه کړ چې د ایران سره زمونږ لفظی شخړی ددی خنډ نشی کید لی چې زمونږ دسیاسی استاذی ګډون دسوری دشخړی دسولی دمذاکراتوله ګډون څخه بی لاری کړی یعنی مونږ دسولی په مذاکراتو کې هرومروګډون کو و - نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره سعودی دټیلو بډا شاهی کورنی له (۳۴) هیوادونو څخه وغوښتل چې دتروریزم دضد په ایتلاف کې د هغه هیوادسره ګډون وکړی اودخپل مبارزی په شریکه کولو سره دتروریزم هلی ځلی شنده کړی .

یا په بل عبارت سره هغه څه چې ترلاسه شو دادی چې سعودی عرب په منطقه کې د تروریستی ګروپونو سره په لاس یو کولو د دښمنی اودنفاق اچونی سیاست غوره کړی کوم چې دنړیوالوله لړلید څخه پټ سا تل شوی وه اوروسیه په سوریه کې د خپل نظا مې مداخلی په کولوسره وتوانیدل چې د سعودی عرب اودهغه هیواد ارتباطات د تروریستی ګروپونو سره نړیوالو ته بربنډ کړنوسعودی عرب په همدی وجهه سره ددی د پاره چې په منطقه کې خپل دغه د دښمنی سیا ست ته دوام ورکړی اویا هغه ته بل رنګ ورکړی نود شیعه ګانومشر« شیخ نمر ال نمر» اعدام کړ تر څو که وکولای شی چې په منطقه کې د وینی تویولو او دهرج و مرج په پلی کولو سره په سوریه کې دتروریستی ګروپونوسره دخپل اړیکی پرسر باندی برغولی کیږدی اودنړیوالو پام بل خواته واړوی .

------------------------------------------ **په سلا مونوسره**